# پر ټولنه د رسنۍ اثرات

# IMPACT OF MEDIA ON SOCIETY

**Imran Khan**[*]

**Dr. Naseebullah Seemab**[†]

**(Corresponding Author)**

**Abstract**:

Media plays pivotal role in society; without it no progress could be made in very important fields of life. In this paper the author tried to pin point the due role of media; its positive and negative aspects besides its significance.

The authors of this paper are of the view that mere presence of media could not guarantee the progress in any society but balanced media surely changes the views which may contribute to right direction.

تر دې له مخه چي موږ پر ټولنه د رسنۍ پر اثراتو خبرې وکړو لاژمه دا ده چي اول د رسنۍ له تعارف څخه ځان خبر کړو چي رسنۍ څه ته وائي.

[*] M.Phil. Scholar Dept. of Pashto, University of Balochistan, Quetta
[†] Prof. Dept. of Pashto, University of Balochistan, Quetta

صحافت چې په پښتو کښې ورته رسنۍ وائي. که چيرې موږ د رسنۍ پر ټکي غور وکو نو دا په خپله څرګندېږي چې رسنۍ څه ته وايې، ځکه چې رسنۍ د رسولو څخه دی.یو شی تر بل پورې رسول.دا رسول خبر هم کېدای شي او نور څه هم، خو دلته رسنۍ د معلوماتو رسولو په معنا کښې ده .هغه معلومات کوم چې دبېلا بېلو څېزونو لکه ورځپاڼه، رساله، مجله، ريډيو،ټي وي او داسې نورو له لارې رسول کيږي.دا معلومات د هر شي په هکله کېدای شي. په اوسنۍ نړۍ کښې رسنۍ او مطبوعات د هرې ټولنې په جوړښت کښې د رګونو ځای او دنده لري. داسې چې د يوې ټولنې په ذهن سازي کښې تر ډېره حده پورې خپل کردار لوبوي او د ټولنې پرمختګ ته وده ورکوي. او د پر مختګ پر لار يې بيايي او په ټولنه کښې شعور پيدا کوي.

رسنۍ چې زموږ په ټولنه کښې په صحافت پېژندل کيږي ،صحافت د اردو ژبې توری دی چې له عربي ژبې صحيف لفظ څخه اخيستل شوی دی چې معنا يې صفحه، کتاب يارساله ده.په انګريزي کښې ورته جرنل توری ټاکل شوی دی، چې اوس په جرنلزم بدل شوی دی.د صفحه لغوي معنا ده، هغه شی چې پر يو شي ليکل سوی وي .چې کومه دغه معنې ته وګورې نو صفحه ته هم صحيفه وايي.په عربي کښې د صحيفه معنا ،جريده او ورځپاڼه راغلې ده.د دغه صحيفې توري ذکر په قرآن کښې هم په ډېرو ځايو کښې راغلی دی.

په قرآن کښي فرمايي چې

(ژباړه)"وہ کہتے ہیں کہ یہ شخص اپنے رب کی طرف سی کوئی نشانی معجزہ کیوں نہیں لایا؟اور کیاان کے پاس اگلی صحیفوں کی تعلیمات کا بیان واضح نہیں آگیا۔"(1)

بل ځای داسې راغلي دي:

(ژباړه)"کیااسے ان باتوں کی کوئی خبر نہیں جو موسی کی صحیفوں میں ہے۔"(2)

او بل الله پاک داسي فرمايي،

(ژباړه)"یہی بات پہلی آئی ہوئی صحیفوں میں بھی کی گئی تھی۔"(3)

لـه دغـو لـوړو آيـاتو څخـه معلـومېږي چـي د انسـان پيـدا کولـو سـره د پيغـام او رهنمـائي د رسـولو دپـاره پـه هـر وخـت کښـې صـحيفې نـازلي شـوي دي.لـه دغـو لـوړو آيـاتو څخـه دا ظـاهره شـوه چـي صـحيفه هغـه ذريعـه ده د کـوم لاري چـي بيـان،خبري او هـدايات رسـول کيږي.

د رسنۍ د تعارف په حواله سيد صفي مرتضی وايي:

"ذرائع ابلاغ سے مراد وہ تمام ذرائع ہیں جن کی مدد سی ہم اپنی بات دوسروں تک پہنچاتے ہیں۔اردو میں ذرائع ابلاغ اور انگریزی میں اسے میڈیا کہتے ہیں۔"(4)

(ژبـاړه) ذرائـع ابـلاغ څخـه مـراد هغـه ټولي ذرائـع دي چي پـه مرسـته يې خپلـه خبـره تـر نـورو پوري رسول کيږي.په اردو کښې ذرائع ابلاغ او انګريزي دې ته ميډيا ويل کيږي.

لکـه مخکـي چـي مـي د صـحيفه پـه هکلـه خبـره وکـړه .صـحيفه چـي پـه اردو کښـې ورتـه صـحافت او پـه پښـتو کښـي ورتـه رسـنۍ نـوم ورکـړل شـوی دی. پـه اصـل کښـي د درې سـره وو يـوه معنـا ده چـي و هغـو نـوو خبـرو، نـوو معلومـاتو تـه وايـي چـي مخکښـې تـرې نـه څـوک خبـر نـه وي. د دغـه رسـنۍ لـه لارې تـرې خبـر شـي .خـو پـه دغـه رسـنۍ کښـي بيـا يـوه پرنـټ رسـنۍ چـي دا د رسـنۍ زوړ قسـم دی او بـل اليکټرونـک رسـنۍ چـي د رسـنۍ نـوې شـکل دی. پــه نــن وخــت کښــی اکثــره خلــګ دغــه اليکټرونــک رســنۍ اسـتعمالوي.ځکه چـي د اليکټرونـک رسـنۍ لـه لارې مـوږ د نـوو خبـرو سـره سـره پـر سياسـي او ادبـي حـالاتو بانـدي تجزيـه هـم وي. او بلـه دا چـي اليکټرونـک رسـنۍ د هـرې پېښـې سمدستي خبر تر خلګو رسوي.

افتخار محمد په خپل کتاب کښي دعبدالسلام په حواله ليکي:

"آج کے دور میں واقعات یا حقائق جاننے کا نام صحافت ہے. سچائی اور انکشافات کا پتہ لگانا ہے صحافت ہی. عوام کو سچائی اور تمام واقعات سے باخبر رکھنا صحافت ہے."( 5)

(ژباړه) د نن په دور کښې په واقعاتو او حقايقو خبريدو نوم صحافت دی. د رشتيا او نوي خبري را ايستل صحافت دی. اولس په رشتيا او ټولو واقعاتو خبر ساتل صحافت دی.

يو بلي پيژندل شوي انګريزي رسالې مدير ټائم ايرک هوجنز وائي چي:

"صحافت معلومات کو ایک جگہ سے دوسری جگہ دیانت، بصیرت اور رسائی سے ایسے انداز میں پہنچانے کا نام ہے جس میں سچ کی بالادستی ہو۔"(6)

(ژباړه) صحافت معلومات له يوه ځايه ځخه تر بل ځايه پوري په ديانت، بصيرت د رسولو نوم دی. په داسي انداز کښې رسول چي د رشتيا لاس بری وي.

د دغو ټولو پوهانو د خبرو ځخه دا معلومه شوه چي رسنۍ هغه نوي او هغه واقعې هغه پيښې او هغه معلومات دي چي دا تر نورو خلکو ورسيږي او په داسي انداز کښې ورسيږي چي په کښې ربښتنوالی وي. له خپله ځانه به په کښې هيڅ نه ورګډوې ځکه چي د رسنۍ لومړۍ ذمه واري هم ربښتنواله ده. رسنۍ هغه هنداره ده چي د دې لاري موږ د نړۍ هر ځائ کتلی شو او له هرې واقعې نه خبريدئ شو. نن صبا کښې چي موږ يو بل ته د نړۍ په حواله ځه وايو او معلومات ورکوو هغه هم د دې رسنۍ له کبله کووا و هم له دې لاري روان يو تر منزله ځان رسوو. رسنۍ د يوې ډيوې مثال لري چې دغه ډيوه په لاس کښې نيولي ده د نړۍ و هر کونج ته ځان رسولی شو. د رسنۍ پر وړو ناست پراخې نړۍ مزل موږ په ساعتونو کښې کولې شو. د رسنۍ په سترګو موږ د نړۍ په آخري کونج کښې يوه پيښه وشي هغه کور کتلې او اوريدلې شو. دا ټول هغه معلومات دي او هغه خبري دی چي موږ يې د رسنۍ له لارې اوريدلای او کتلای شو. خپل معلومات په دغو پيښو کښې شريکولی شو رسنۍ د نړۍ ښکلا ده رسنۍ هغه هنداره ده چي هرقام تهذيب، ثقافت، تاريخ او اتلان يې ښکاره کړي دي. هر څوک

یې وینې د رسنۍ له لارې د هر قام تاریخ ثقافت ژوندی پاته شوی دی.رسنۍ اولس راپاروي چې هغه نوې لارې خپله کړي د عصر سره اوړه په اوږه مزل وکړي. اوپه بېلا بیلو ټولنو کښې ټولنیزې رابطې جوړې کړي.په نن دور کښې د ترقي یافته هیوادونو مقصد یواځې بدلول نه دي بلکه د دوی مقصد اولس د ترقۍ او خوشحالۍ و خواته وړل دي.هغه خلک چې له علم او هنر سره نږدې دي هغه دا نورو خلکو چې علم او هنر نه لري له هغو سره د دې لارې مرسته کوي. رسنۍ په قام کښې د شعور باعث ګرځي. رسنۍ د اقتصاد او معاش په حواله هم ډېر لوی رول لوبوي نن که موږ ګورو نو په نړۍ کښې د رسنۍ رول ډېر مهم دی.

> "دا یو مسلم حقیقت دی چې په اوسني وخت کې رسنۍ د انساني ژوند یوه اړتیا ګرځېدلې ده او په انساني ژوند باندې ډېره زیاته اغېزه لري . هیڅ داسې یو ټولنه نشته چې له رسنیو څخه استفاده نه کوي، او دغه رسنۍ د بېلا بیلو ټولنو احزابو او شرکتونو له خوا کنټرولیږي"(7)

دا وخت د ټېکنالوجي وخت دی. په دغه وخت کښې ټوله نړۍ (نړیوال کلي)د یو بل آوازونه اوري د یو بل سره لیدل کتل کولی شي .په هر ځای کښې رسنۍ خپل رول ادا کوي لګیا ده. رسنۍ په یو تهذیب کښې تر دې حده رول ادا کولې شي چې دوی ته په ټولنه کښې د خپل مزاج مطابق ذهني رویه ورکي او تهذیب یې له سره څخه اپوټه کړي.رسنۍ په بېلا بېلو ذریعو د نړۍ په هر کونج کښې چې څه کېږي تر موږه پورې رارسوي او د خپل مزاج مقاصدو سره یې رارسوي. دا هغه اداره ده چې د دغې له لارې زموږ راروان نسل په نړۍ کښې د ښه او بد تمیز کولې شي حتی چې مذهبي خبرې هم موږ ته اکثره د رسنۍ له لارې رسېږي.د رسنۍ له لارې موږ د راروانو حالاتو اندازه هم کولای شو چې په راتلونکي به څه کېږي .موږ ته د درې څلور ورځونه مخکې خبر راشي چې صبا یا بله ورځ به حکومت دا کار کوي.

ډاکټر محمد شاهد حسین لیکي.

"صحافت خبر ہے اطلاع ہے،جانکاری ہے.صحافت عوام کے لئے عوام کے باری میں تخلیق کیا گیا ہے.دن بھر کی واقعات کو تحریر میں لکھا کر آواز میں سجا کر تصویروں میں سمو کر انسان کی اس خواہش کی تکمیل کرتی ہے.جس کے تحت وہ ہر نئی بات جاننے کے لئے بے چین رہتا ہے."(8)

(ژباړه)صحافت داولس لپاره د اولس په هکله د خبرو، اطلاعاتو او خبرېدو لپاره تخليق شوې دی.د ټولي ورځي واقعات د ليک په بڼه کښې په ږغونو او انځورونو کښې اچوي او د انساني خواهش پوره کولوتکميل کوي.ځکه چي انسان د هر نوي خبر لپاره بې چېنه وي.

ژورنالزم(رسنۍ) بايد هغه ذمه وارياني تر سره کړي چې د ټولنې په ګټه وي. له داسي خبرو څخه ځان وژغوري چي و ټولني يا فرد ته ترې زيان رسيږي.ژورنالزم بايد چي داسي غلطي ونه کړي چې يو ناموره انسان پرې بې عزته کيږي. ځکه چي رسنۍ مثال ديوې ګاډۍ دی چي پر کومه لار او څه رنګه يې چلوې هغه رنګه نتيجه ترې وځي. ژورنالزم به د چا د بې عزتي هڅه نه کوي.ځکه چي دا د ټولنې ښکلا ده و دې ته د ټولنې هنداره وايي. په هنداره کښې هر څوک خپله چهره ګوري چي پر چهره يې کوم داغونه وي او يا نوره څه کمی ورته محسوسه شي د هغه کمي د ليري کولو کوشش کوي.

"صحافت ایک جادو ہے بول میں خیر و شر کی بجلیا روپوش ہے.ایک معمولی سی خبر ایک افواہ یا ایک غلط بیانی کی وہ دوررس نتائج مرتب ہوتے ہے جن پر قابو پانامشکل ہوجاتا ہے کسی شخص کو بام ہرت پر پہنچانا یا قعر مذلت میں دکھیلا ہو،کسی جماعت یا تحریک کو قبولیت کی سند عطا کرنی ہو یا لوگو کو اس سے متنفر کرنا ہو حکومت کے کسی پالیسی کو کامیاب یاناکام کرناہویامختلف اقوام میں جذبات نفرت یادوستی پیدا کرناہوتویہ صحافت کاادنی کرشمہ ہے."(9)

(ژباړه) صحافت يو جادو دی چي په وئيلو کښې يې د خير وشر بجلياني پټې دي.يو معمولي خبرد يوې افوا يا غلط بياني ډېري ژوري پايله وي چي قابو کول يې ګران وي.يو څوک د شهرت بام ته خېژول يا د بدنامۍ کندي ته غورځول،د يو ګوند يا تحريک په خلګو کښې محبوبيت پيدا کول يا ورڅخه ليري کول،د دولت يو پاليسي

کامیابه یا ناکامه کول، یا په قامونو کښې دنفرت یا دوستي پیدا کول وي دا د دصحافت له پاره معمولي کار دی.

رسنۍ د یوه هیواد او ټولنې په ذهني وده او فکري تګلوري کښې اساسي رول ادا کوي. په همدې اصطلاح رسنۍ د یوه دولت څلورم قوت یا ستن ګڼل کېږي.دلته به د څلورم ستون سره سره د اولو درو ستونو نومونو اظهار وکړم چې د ځینو په ذهن کښې دا پاته نه شي چې دریاست اول درې کوم پیلرونه دي. د ریاست اول ستن پارلیمنټ ، چې په ریاست کښې د آئین او قانون جوړولو او بدلولو اختیار لري.دویم عدلیه چې په ریاست کښې یې د قانون تشریح کولو ذمه واري په غاړه لري.دریم انتظامیه چې په ریاست کښې د قانون نافذ کولو د ننده تر سره کوي.رسنۍ ته یې د اولس او سرکار تر مینځ د پل کردار ادا کول حیثیت ورکړئ دې.لکه مخکې چې مې ووئیل چې رسنۍ د انسان په رګونو کښې د وینې حېثیت لري په دغه وخت کښې رسنۍ پر ټوله نړۍ جال خور کړی دئ او نړۍ یې ټوله سره یو ځائ کړې ده

د رسنۍ ګټې:

رسنۍ د ټولنې سترګې دي په ټولنه کښې شعور پیدا کوي دهر قام نمائندګي کوي د هر قام رسنۍ د خپل قام دپاره خپل خدمات تر سره کوي.په نړۍ کښې چې کوم کردار رسنۍ ادا کولای شي داسي بیا بل شی نه اداکولای. یوه اداره هم دغه ځای ته نه شي رسېدلای. ځکه چې نن په تولنه کښې هر سړی د رسنۍ سره په یوه نه یوه حواله تړلی دی.هغه که خبر اوري هغه که ډرامه ګوري هغه که فلم ګوري یا یې لولي له هغه څخه ضرور متاثره کیږي.اوس که رسنۍ خپله قامي ذمه واري پوره کوي او هغه څه وړاندي کوي کوم چې د قام کلتور،تاریخ او د عنناتو ترجمان وي نو دا ګټه بل هیڅوک نه شي رسولای.د حالاتو سم تصویر چې هغه د وطن په ګټه وي وړاندي کول د اولس د رهنمائي باعث ګرځي .دا تش داولس نه بلکې د مشرانو قامي مشرانو د لارښوني باعث ګرځي.

دا ځکه چي داولس حالات او غوښتني تر دوی پوري رسولای شي. د نن رسنۍ دومري پرمختګ کړی دی چي ولاړ ،روان،کور ،دفتر هر ځای د دې رسايي شته.د هر منټ خبر تر خلګو رسوي.په نن صبا وخت کښې تر ټولو لوی ايجاد انټرنېټ دی. اوس مېډيا زموږ په ژوند کښې څه داسي کردار ادا کړی دی چي يو خو موږ د دې په استعمال سره ډېرې ګټې تر لاسه کړي دي. رسنۍ په انسان کښی شعور پيدا کوي انسان له هر شي څخه خبروي .د نړۍ له حالاتو څخه يې خبروي. درسنۍ له لارې موږ خپل درخواست په بهر ملک کښې په کور ناست يو جمع کولې شو .د رسنۍ له لارې موږ اسلامي معلومات تر لاسه کولې شو. موږ پر کور ناست په ساعتونو کښې ځان د رسنۍ له لارې د نړۍ تر بل کونجه ورسو. بل دا چي موږ د خپل خپلوانو سره چي هغه په نورو هېوادو کښي مسافر دي موږ ورسره ښه په کمه خرچه حال نيولی شو.

> ټولنيزي رسنۍ هغه څه دي چي زموږ په ژوند کښي د ټولني هر فرد ورته اشد ضرورت لري او دا بايد پر ټولنه مثبت اثر ولري او هم بايد د ټولني افراد ځني په مثبته توګه استفاده وکړي."(10)

رسنۍ د تعليم په پرمختګ کښې تر ټولو زيات با اثره ذريعه ده. په دغه ذريعه په ټولنه کښې تعليم عام کېږي او په هر شئ کښې زياتوب راځي.د ميډيا په ذريعه هر رنګه معلومات تر لاسه کولی شي په دغو معلوماتو کښې لکه سياسي،مذهبي،تعليمي،سائنسي،ټېکنالوجي او حتي چي خوراک د پخولو دپاره هم لوی رول لري.اوس د هر ماشوم مور او پلار دا غواړي چي د ځوی سره سره لور هم په سکول کښې داخله کړي.دا کار او ذهن سازي د رسنۍ له لاري شوې ده. پر رسنيو کښې اکثره وخت پروګرامونه د برابري په هکله روان دي چي هلک او انجلۍ ته د تعليم دپاره برابر حق ورکړل شوی دی. او دغه رنګه په خلګو کښې هم دغه همت اوس پيدا شوی دی چي څه رنګه هلک په سکول کښې داخلوي دغه رنګه ورسره ورسره انجلۍ هم داخله کړي دا ټولې د رسنۍ ګټې دي.

پر ټولنه د رسنيو د مثبت اثراتو په حواله کامل حسين ليکي:

"میڈیاکے ذریعے علماء دین اپنے مذہب کی تبلیغ کررہے ہیں کہ ہ لوگوں کو دینی فقہی فقہ اسلامي اور دوسرے دینی مسائل سے آگاہ کرنے کا ذریعہ بھی بنایا میڈیا کے ذریعے معاشرے کے بی روز گار افراد کو ملازمت کی حصول میں بہترین ذریعہ ہیں. میڈیا کے ذریعے کوئی خبر مثلاً گمشد گی کی اطلاع آناًفاناً پورے ملک میں پھیلا دیتی ہیں جس کا اثر یہ ہوتا ہے کہ گمشدہ سی شے کو تلاش کرنے میں اتنا محنت کرنا نہیں پڑتا یہ اور اسی طرح ہمارے میڈیا والوں نے کئی بچوں کو اپنی گھرانوں تک واپس کی ہیں."11

له پورتنۍ حوالې څخه دا معلومه شوه چي د رسنۍ استعمال د انسان په لاس کښې دی که چیري انسان دغه رسنۍ په کار واچوله او د ټولني د لاربښوني ذریعه یې وګرځوله نو په دې عمل به په انسان کښې شعور پیدا شي .د ټولنې له ترقۍ سره به یو مخ په وړاندې قدم واخلي .له ټولنې څخه به خپل حق تر لاسه کړي.دا رنګه په سیاسي حواله چي کوم ریښتوني تصویر دی هغه وړاندي کړي، د اولس او وطن له پاره د ګټې باعث ګرځي.که چیري رسنۍ د ژوند حقیقي څهره را وړاندي کړي د ټولني ښېګړي او خرابیاني رامینځ ته کړي نو حل له پاره به لاري هواري شي.

د رسنۍ نقصانونه:

رسنۍ په انساني تهذیب کښي د ترقي، د ودې او پرمختګ باعث وي. رسنۍ چي دټولنې دپاره ځومره فائدې لري ورسره سره نقصانات هم لري او کله نا کله دغه رسنۍ د فائدې پر ځای د نقصان باعث وګرځي. هغه په دې چي که چېري موږ رسنۍ په غلطه طریقه استعمال کړو ،د چا په خلاف د پروپیګنډه په توګه یا په کلتوري حواله د یو کلتور د پردي کولو په خاطر د هغه بڼه بدلول،د حقایقو پر ځای له دروغ څخه کار اخستل چي د رسنۍ په ژبه کښې ورته یلوجرنلزم وئیل کیږي د ټولني له پاره د زهرو کار کوي.بیا په خاص توګه الیکټرانک رسنۍ چي په هغه کښې نیټ هم شامله دی،هغه څه ښکاره کوي چي له هغه څخه د کلتور سره سره د ځوانانو اخلاق ته هم زیان رسوي. د کار پر ځای په کښي بې کاره څېزونه کتل دا د فائدې پر ځای د نقصان باعث ګرځي. بل دا چي که چېري موږ دغه رسنۍ د کم عمرو کوچنیانو په لاس ورکړو هغه که په کښي هر څه کتل موږ ترې ځان نهّ خبر وو نو دا به د کوچنیانو ټول مستقبل په سره اور کښي واچوي.رسنۍ که موږ د کار دپاره استعمال نه کړو نو دا بیا زموږ وخت ضائع

کوي او په رسنۍ کښې بيا په خاصه توګه انټرنيټ چې که څه هم د ګټې څيز دی خو زموږ په ټولنه کښې اکثره خلګ يې د ګټې له پاره په کار نه راولي د غير ضروري شيانو استعمال په کښې ډير دی.د بې ځايه او بې وخته استعمال يې د وخت سره سره پر صحت هم اثر اچوي .

"انٹرنیٹ کا سب سے بڑا نقصان ہماری زندگی میں یہ ہے کہ ہمارے گھر کی بڑے جن میں بزرگ شامل ہیں وہ اس بات سے بالکل ناواقف ہوتے ہیں ان کی نظر میں تو ان کے بچے کمپیوٹر پر کام کررہے ہوتے ہیں اب کام کونسا ہے یہ انہیں معلوم نہیں ہوتا جس کی وجہ سے وہ انہیں روکتے نہیں ہیں"(12)

(ژباړه) د انټرنيټ تر ټولو غټ تاوان زموږ په ژوند کښې دا دی چې زموږ د کور مشران چې په هغه کښې سپين ږيري هم شامله دي،په دې خبره بلکل ناخبره وي چې کوچنيان پر کمپيوټر څه ګوري دوی چې وايې کار پر کوي ځکه يې نه راګرځوي.

له رسنۍ څخه مثبت او منفي اثرات دواړه پيدا کيږي.رسنۍ کتل اوريدل زموږ په لاس کښې ده که چيري موږ يې د کار دپاره استعمال کړو نو دا به زموږ د فائدې دپاره په کار واچول شي. او که چيري يې موږ په غلطه طريقه استعمال کړو نو دا به مو د فائدې پر ځای د نقصان سبب وګرځي.

"نفسیاتی ماہرین نے کہاہے کہ زیادہ دیر بیٹنے والے بچے دوسروں کی نسبت زیادہ جارحانہ رویہ کا مظاہرہ کرتے ہیں.ٹی وی کے سامنے زیادہ دیر بیٹھنا بچوں کی ذہنی اور جسمانی صحت پر کئی طرح کے منفی اثرات مرتب کر سکتاہے.ماہرین کے مطابق بچوں کی ٹی وی کے سامنے زیادہ دیر تک بیٹھنے سے ان کی جسمانی نشو نمامناسب طریقے سے نہیں ہوپاتی اور ایسے بچوں کی موٹاپے ہونے کے امکان بڑھ جاتی ہے اس ضمن میں کیلیفورنیا کی پٹین فورڈیونیورسٹی کے ماہرین نے دو سو پچاس بچوں پر تحقیق کی جس میں سے تین تہائی بچوں میں زیادہ دیر تک ٹی وی دیکھنے والے بچوں کی نسبت جارحانہ رویہ اور خوف وہراس کم پایاجاتاتھاجس کے بعد ماہرین نے ان بچوں کو دس دن تک ٹی وی دیکھنے سے منع کیا."

"بچوں کی تربیت کا وہ سہنر ادور جس وقت بچوں کو والدین کی ضرورت ہوتی ہے بچے ی وہ ٹائم کیبل کی فضول نشریات دیکھتی ہوئی گزارتے ہیں،والدین کے پاس ٹائم نہیں ہوتا کہ وہ بچّوں کو چیک کر سکیں کہ اُن کا بچہّ ذہنی تفریح کے نام پر کیبل سے چلنے والے چینلز سے کیاسیکھ اور سمجھ رہاہے،میڈیا کی تربیت کے ساتھ بڑے ہوتے بچے جب ذرااور شعور کی عمر تک پہنچتی ہیں تو ڈراموں میں دکھایاجانے والالائف اسٹائل بڑی بڑی گاڑیاں بنگلے بچّوں میں مادہ پرستی پیدا کرنے کا سبب بنتی ہیں اور اگر بچوں کو

گھر سے پیسے نہ ملیں تو وہ اس کے حصول کے لیے کوئی بھی طریقہ اختیار کر لینے میں کوئی برائی نہیں سمجھتے کیونکہ میڈیا اُن کو یہی سکھا رہا ہوتا ہے کہ ایک فلم کا ہیرو کس طرح منفی رویے اپنا کر زبردستی کسی سے کوئی چیز چھین سکتا ہے تو ہم کیوں نہیں کر سکتے"(13)

په رسنيو کښې چې تر ټولو خطرناک څېزونه دي هغه لکه نېټ، فلمونه، فېسبوک دا ټول هغه څيزونه دي چې په نن وخت کښې ئې په ټولنه کښې د ځواني طبقې او کم عمري طبقې چې په کښې کوشنيان شامله دي ټول يې له تباهي سره مخامخ کړي دي. د دغه شيانو د مخنيوي دپاره د کورو مشر ته په کار ده چې هغه دې د خپل ماشومانو خيال وساتي په نظر کښې دې وساتي .که څه هم کوشنيان نېټ استعمالوي خو دا شی به يې په نظر کښې ساتي چې زما ماشومان څه ګوري ايا دا د خپل تعليم په حواله معلومات حاصلوي او که خدا نخواسته څه بې ځايه شيان خو نه ګوري.

"په تېرو ۱۲ کلنو کښې و هيواد ته د ټولنيزو رسنيو په راتګ سره مو ډېر خلک د دې رسنيو څخه برخمن شوي، اکثره وګړي مثبته ګټه ترې پورته کوي، ولې ډېرې وګړي مو لاد دې نعمت په اهميت نه دي پوه. که راسو ټلوېزيوني رسنيو ته په سلو کښې نوي فيصده خلک مو ترې منفي ګټه پورته کوي، خپل زيات قيمتي وخت پر بې ځايه فلمونو، پرديو سرپالونو او نورو عبثو پروګرامونو تېروي. نن ورځ چې زموږ په ټولنه کښې د پرديو کلتور مخ په وړاندې روان دی يو ستر لامل يې همدغه پردي تلوېزيوني سريالونه دي چې په کورونو او نورو کاري ځايونو کښې کتل کېږي،"(14)

رسنۍ زموږ په ټولنه کښې هغه رول نه دی لوبولی څه رنګه چې د ژورنالزم ذمه واري ده.د ټولنې دپاره د ژورنالزم په غاړه ډېرې غټې ذمه وارياني پرتې دي. هغه په دې چې ژورنالزم به د ټولنې خامي او خوبي ظلم او ناجائز حرکتونه چې په ټولنه کښې ليدل کيږي ښکاره کوي اولس ته به په دې اړه شعور ورکوي .د ژورنالزم په غاړه تر ټولو

غتمه ذمه واري دا ده چي هغه به د ظالم او مظلوم فرق ښکاره کوي او د غه ظلم چي کوم له مظلوم سره کېږي دا به تر ټولنې رسوي. او له کوم ناوړه څېزونو يا له نورو څېزونو څخه چي حکومت خبر نه وي، دا ذمه واري د رسنيو ده چي د حکومت ودې ته پام راواړوي او په خبر يې کړي. نو له دغه رسنۍ له لارې به دا ټولې مسلې حل کېږي. تر څو پورې چي رسنۍ د خپل قام پوره پوره نمائندګي نه وکړي نو دا رسنۍ بيا رسنۍ نه بلل کېږي. دا يوائې بيا د پيسو جنګ دی.

> "فېسبوک هم يوه ټولنيزه رسنۍ ده چي نن ورځ بې انتها ډېر کسان وربانديې مصروفه دي، بعضي يې سم کاروي او بعضي نور يې د نورو باطلو اهدافو له پاره کاروي، د دې فېسبوک په ناوړه استفادې سره د ډېرو خلګو تر مينځ د مينې او ورورولۍ فضاء له مينځه تللې او ډېری مشران مو بې ځايه د نااهلو کسانو له خوا سپک شوي او د هغوی بې عزتي شوې ده."(15)

د نن په دور کښي رسنۍ زموږ په ژوند کښې يوه ډېره لويه برخه ده، چي څومره يې زموږ په ژوند کښي آسانتياوي پيدا کړي دي، هغومره يې تاوانونه هم پيدا کړي دي. بيا په خاصه توګه د اليکټرونک رسنۍ چي له فائدې څخه ئې نقصانونه ډېر دي. زه دلته دا زياتول غواړم چي يو مثال دی لکه يوه چاړه چي هغه جوړه شوې ده، دخوراک کاټولو دپاره نو که څوک يې د انسان د قتل کولودپاره استعمالوي چي په دغه چاړه انسان مړ کړي يا ټپي کړي نو دا قصور د چړې نه بلکې د انسان دی. دلته هم رسنۍ جوړه شوې د انسان د ګټې دپاره ده، که يې څوک په غلطه طريقه استعمالوي نو دا د رسنۍ قصور نه دی، انسان ته خدای پاک عقل او فکر ورکړی دی، انسان ته په کار ده چي دغه سوچ او فکر استعمال کړي او ځان ته ښه او بد معلوم کړي او چي کوم شی بد وي د تاوان ذريعه وي نو بايد چي له داسي کارو څخه ځان وژغوري او کوم شيان چي د انسان د ګټې دپاره دي بايد چي هغه په کار واچوي.

په پاکستان کښي د رسنيو اثرات په تېزۍ سره پر مخ روان دي. په دغه تېزۍ کښي بيا په خاصه توګه فېسبوک، ټوېټر د راتلو سره په نيټ کښي نوره تېزي راغله، او

خلګو له دغو سره دلچسپي پيدا شوه.دغه دلچسپي که څه هم ګټه وره وي خلک ترې فائدې اخلي بلې خواته په دې کښې منفي اثرات هم زيات دي.هغه دا چې کله انټرنيټ او کمپيوټر خلک په صحيح طريقه نه شي استعمالولى يعنې ډير خلک داسې سته چې هغه په انټرنيټ او کمپيوټر چې د کوم کار دپاره جوړ شوئ دي دوئ تر ې هغه کار نه شي اخستلى نو بيا دغه کمپيوټر او نيټ د دوئ دپاره د تباهي سبب وګرځي.د دې سره سره بيا ښځې چې کله دغه ويب سائټ د اصولو بغير د خپل دوستانو،خپلوانو او داسې نورو سره په استعمال راولي نو د ناپوهۍ له کبله داسې منفي نتيجې مخ ته راوړي چې هغه بيا د هغوى د ژوند د تباهي باعث وګرځي.او دا نه يواځې ترېجيډي ده بلکه د دغو په وجه ډير خلک د مشکلاتو ښکار شي او ډيرې واقعې مينځ ته داسې راغلي دي چې د دغه موبائل يا نيټ استعمالولو په وجه ډيرې پيغلې او ځوانان له خاورو سره خاورې شوي دي.

"مونږ او تاسې هره ورځ په فيسبوک کښې چې له ټولنيزو رسنيو څخه شمېرل کېږي زيات داسې څه وينو او چې اصلاح زمونږ له کلتور او د اينده نسل د خرابي لامل ګرځي. زيات شمېر داسې کسان سته چې له همدې فيسبوک څخه داسې مضمونونه خپروي چې زمونږ د خلکو له پاره تر زهرو خطرناکه وي."(16)

پر پښتو ادب ،ثقافت،رسم رواج باندي د رسينو له لارې ډير اثرات پراته دي.زمونږ په پښتني ټولنه کښې د لباس،اخلاق ،ناسته پاسته يو دبل عزت او قدر په حواله اوس هم تر نورو قومونو زيات د دې شيان خيال ساتل کيږي. خو د رسنۍ په راتګ سره پر دې شيانو څه منفي اثرات لوېدلي دي .دغه اثراتو په ټولنه کښې ډير ګډوډي رامينځ ته کړي دى د پښتون د کلتور آئينه يې داسې تته کړې ده چې د پښتون قامي څهره سمه نه ښکاره کوي.

## حوالي

1.القرآن، سورة الطهٓ ،ايات ١٣٣

2 القرآن ، سورة النجم، ايات ٣٦

3-القرآن، سورة الاعلی، ايات١٨

4—عبدالحی،اردو صحافت اور سر سيد احمد خان (دهلي،عفيف آفيسٹ پرنٹرز ، کال ٢٠٠٨ء) مخ، ١٣

5- کهوکهر محمد افتخار، تاريخ صحافت (اسلام اباد:مقتدره قومي زبان ، کال ١٩٩٥ء)مخ،٧٨

.6http://www.nunn.asia:; 01:49pm27-05-016

7-- عبدالحی:اردو صحافت اور سر سيد احمد خان (دهلي،عفيف آفيسٹ پرنٹرز ،چاپ کال ٢٠٠٨ء) مخ، ١٣

8--همايون اشرف ډاکټر، اردو صحافت ،مسائيل اور امکانات (دهلي،عفيف آفيسټ پرنټرز،چاپ کال ۲۰۰۶ء) مخ، ۵۶

9- کهوکهر محمد افتخار، تاريخ صحافت (اسلام اباد:مقتدره قومي زبان چاپ کال ۱۹۹۵ء)مخ،۳۷

http://www.geourdu.com/columns-and-articles/mobile-al-social-human-social-10 advantages-disadvantages/

11- همدغه لوړ

12- همدغه لوړ

13- همدغه لوړ

14- همدغه لوړ

15- همدغه لوړ

16- همدغه لوړ

# متل او پښتون چاپېريال: تحقيقي او تنقيدي مطالعه

# ROLE OF PROVERB IN PASHTOON SOCIETY: A CRITICAL ANALYSIS

Muhammad Naeem Kakar*

Abdul Rehman Kakar†

(Corresponding Author)

**Abstract**

* M.Phil. scholar, Dept. of Pashto, University of Balochistan, Quetta

† Faculty Member, Dept. of Pashto, University of Balochistan, Quetta